

# پنځلسمه خبرپاڼه

## د ټاکنو خپلواک کمیسیون

د ۱۳۹۸ کال د وږي څوارلسمه

## د ۱۳۹۸ کال د تلې په شپږمه نیټه په ولسمشریزو ټاکنو کې د درغلیو پر ضد کوټلي ګامونه



د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د ۱۳۹۸ کال د تلې د شپږمې نیټې په ولسمشریزو ټاکنو کې د درغلیو د مخنیوي په پار نوي تدبیرونه او کوټلي ګامونه پورته کړي چې د روان کال د زمري په 29 مه نیټه له رسنیو سره شریک شول.

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مشرې میرمن حوا علم نورستانۍ د افغانستان د خپلواکۍ د ترلاسه کولو د سلمې کلیزې مبارکي وویله زیاته‌یی کړه: «نن مو وغوښتل چې خپلو پتمنو هیوادوالو ته ډاډ ورکړو، چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د خدای په فضل د ۱۳۹۸ کال د تلې په شپږمه نیټه د ولسمشریزو ټاکنو د ترسره کولو لپاره بشپړ چمتوالی نیولی چې دغه ټاکنې به په پوره رڼښت ترسره شي. همدا اوس زموږ د ټاکنیزو توکو لیږد، د کارکونکو د ګومارلو او کارکونکو ته روزنیز بهیر روان او د بشپړیدو په حال کې دی.»

په دغه ناسته کې کمیشنر مولانا محمد عبدالله وویل: «د درغلیو پر ضد لایحه په دریو پړاوونو (رای ورکول، رای شمیرل، او د رایو د تفتیش او باطلول) په پام کې نیول شویدي.» ښاغلي عبدالله د خپلو خبرو په دوام وویل چې د رای ورکونکو له نوملړه ۴۰۰ زره کسان ایستل شوي او د درغلیو پر ضد لازم تدبیرونه نیول شویدي. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون دغه غړي زیاته کړه: «د رای ورکولو هر محل ته د بایو متریک یوه دستګاه په پام کې نیول شوې چې ۴۰۰ رای ورکونکي په کې ثبت دي، دا رنګه یوه اضافي دستګاه به هم په هر مرکز کې وي.»

هغه زیاته کړه: «رای ورکونکي باید د تابعیت ستیکر لرونکي تذکره له ځانه سره ولري او له هغه وروسته د بایو متریک ماشین په واسطه پیژندل کیږي د هغه ګوتې بایو متریک کیږي او عکس یې اخیستل کیږي، امنیتي کوډ د رای ورکولو لپاره تر لاسه کوي، چې دغه پړاونه د نیابتي رای ورکولو مخنیوی کوي. دا رنګه د رای ورکولو مسوولین هم بایومتریک کیږي، د بایو متریک پرته ټولې رای پاڼې باطلې دي او هغه رای پاڼې چې ټایمر یې د رای کولو وړاندې یا هم وروسته کوډ خوړلی وي هغه ټولې باطلې دي.»

نوموړي وویل، دغه نوي تدبیرونه چې په لوایحو او تګلارو کې خپاره شوي د کمیسیون په ویب پاڼه کې هم راغلي، چې پخوا دغه څه نه وو او اوس د دغو ګامونو په اوچتیدو سره نوي په سلو کې د درغلیو مخه نیوله کیږي.

د یادولو وړ ده چې د کمیسیون کمیشنرې میرمن ظریفی د خبریالانو د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل:"د میرمنو عکس اخیستنه هیڅ ډول شرعي ستونزه نه لري؛ میرمنې د تذکرې اخیستلو، پاسپورټ، حج او نورو برخو کې اړتیا لري چې عکس واخلي او په هغو برخو کې د کورنیو له خوا هغوی ته ممانعت نه کیږي. نو د افغانستان پتمن خلک باید په ټاکنو کې د رڼښت لپاره همکاري وکړي او د میرمنو سره هم په دغې برخه کې خپله مرسته او همکاري ونه سپموي."

## د تلې د شپږمې نیټې د ټاکنو په تړاو د اونیزې ناستې ترسره کیدل



د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مشرتابه د امنیتی، دفاعي او نورو اړونده ادارو سره په همغږی د ۱۳۹۸ کال د زمري په یودیرشسمه نیټه ګډه امنیتی غونډه ونیوله او د ۱۳۹۸ کال د تلې په شپږمه یې د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د چمتوالي پر سر خبرې اترې وکړې.

د کمیسیون مشرې میرمن حواعلم نورستانۍ د امنیتی ادارو له همکاریو نه په مننې سره وویل: «په ټاکنو کې د خلکو ګډون د ټاکنیز بهیر د خوندیتوب او امنیت سره تړلی دی؛ او په هره کچه چې د رای ورکولو د مرکزونو امنیت خوندي وي په هماغه کچه خلک ځان ډاډمن احساسوي او په ټاکنو کې د برخه اخیستونکو کچه ورسره لوړیږي.»

د کورنیو چارو سرپرست وزیر محمد مسعود اندرابي، د دفاع وزارت لومړي مرستیال ډګرجنرال محمد یاسین ضیاء، د ملي امنیت د عمومی ریاست د پلان او پالیسی مرستیال اجمل عابدي د دغو ادارو د بې پرې چمتوالي او د ټاکنیزو دفترونو، ټاکنیزو کارکونکو، د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو د امنیت په خوندیتوب او د پلان سره سم ولایتونو ته د ټاکنیزو توکو د لیږدولو په اړه یې د کمیسیون د رهبرۍ غړو ته ډاډ ورکړ.

دا رنګه د ښځو چارو مرستیالې وزیرې نبیله مصلح، د مالیې وزارت استازي، او د افغانستان د مخابراتي خدمتونو استازي (اترا) په وار سره د تالاشي کونکو میرمنو په معرفي کولو او هغوی ته د حق الزحمې د ورکولو، د دغه کمیسیون د ولایتي دفترونو او ولایتي مستوفیتونو تر منځ د همکارۍ د رامنځته کولو او د مخابراتی مرستو په تړاو معلومات وړاندې کړل.

## د بایو متریک ماشین د کارولو په څرنګوالي د ښوونیز پروګرام جوړول




د ولایتي دفترونو مدیرانو او روزونکو لپاره روزنیز پروګرام د بایومتریک وسیلو څخه د کتنې اخیستنې په موخه د زمري په دیرشمه د کمیسیون په ودانۍ کې جوړ شو.

د کمیسیون غړي او منشي مسافر قوقندي د پرانیستې وینا پر مهال ولایتي مدیرانو او روزونکو ته وویل: «تاسو باید لازمي روزنې په سمه توګه تر لاسه کړئ او بیا یې په تولو امانتدارۍ سره خپلو ولایتونو ته ولیږدوئ او د خپلو تولو دندو په ترسره کولو کې بې پرې والی ته زیاته پاملرنه وکړئ.»

د کمیسیون نړیوال کمیشنر احمد اسحاق حسن دا رنګه د خپلو خبرو په ترځ کې وویل: «موږ هڅه کوو چې د ټاکنیزو درغلیو مخه ونیسو، له همدې امله د تکنالوژۍ څخه په کتنې اخیستنې او د کارکونکو د روزلو لپاره هڅې کوو.»

د دارالانشاء عملیاتي مرستیال ډاکټر محمد عثمان فروتن د عامه پوهاوی او اطلاع رسونې د ارزښت په تړاو خبرې وکړې او زیاته یې کړه: «تاسو ته ځانګړې فورمې درکول کیږي، د ولایتونو د روزنې له برخې باید کره ارزونه او څارنه وشي او په اړه یې باید په سمه توګه رپوټ ورکړئ، د ټاکنو بریالیتوب د روزنې له څرنګوالي سره نیغ په نیغه تړاو لري.»

دا رنګه د کمیسیون د دارالانشاء د ستراتیژیکو اړیکو مرستیال علي شاه مصباح وویل: «ستاسو او ستاسو له کرنو څخه په ولایتونو کې ملاتړ کوو. په مرکز کې یوه همغږي پلټنه چې سمه روزل شویده او ستاسو څخه مو هم هیله دا ده چې دغه همغږي د خپلو آمرینو او د ولسوالیو د مامورینو تر منځ هم پیاوړې کړئ.»

د ټاکنیزو زده کړو مشر، رحمت الله صالحي د ښوونیزو زده کړو د اجندا په اړه داسې معلومات وړاندې کړل: د ولایتي دفترونو د نږدې ۲۰۰ مدیرانو او روزونکو لپاره پنځه ورځنۍ روزنیز ورکشاپ په پام کې نیول شوی چې په ترځ کې به یې د ښوونې میتودونه، د بایومتریک وسیلو څخه ګټه اخیستنه او د رای ورکولو او رای شمیرنې د طرزالعملونو په اړه ګډونوالو ته روزنه ورکړل شي.

## په هیواد کې د عامه پوهاوي د سرتاسري کمپاین پیل

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د عامه پوهاوي د عملیاتي پلان پر بنسټ، د عامه پوهاوي سرتاسري کمپاین د روان کال د زمري په ۲۹ مه نیټه د عامه پوهاوي د مبلغانو له خوا پیل شو.

له همدې امله، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ریاستونو له خوا مطبوعاتي کنفرانسونه د سیمه یزو چارواکو (والیانو، امنیه قوماندانانو، ریسانو، د ولایتي شوراګانو غړیو، د وزارتونو دویمه درجه ریسانو او د خپلواکو ادارو چارواکو)، د مدني ټولنې استازیو او ګڼو شکیلو ټاکنیزو بنسټونو له خوا جوړ او د سیمه یزو رسنیو له لارې یې خلکو ته پوهاوی ورکړ.

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ټاکنیزو چارو ریسانو د خلکو د پوهاوي د زیاتولو لپاره د عامه پوهاوي د کمپاین د ارزښت په اړه خبرې وکړې، او په ټاکنیزو چارو کې یې د ښکیلو ادارو د ملاتړ غوښتنه وکړه.

د ولسمشریزو ټاکنو په بهیر کې ۹۰۰ تنه مبلغان او ۱۱۱ تنه د عامه پوهاوي روزونکي پر دندو ګومارل شوي چې د تبلیغاتي موادو څخه (فکتشیټ، لیفلیټ، بروشور، پوستر، قلمونه و کتابچې چې د کمیسیون ټاکنیز پیغامونه لري) په کتنې اخیستنې د رائلونکو ټاکنو په اړه خلکو ته په مستقیمه توګه پوهاوی ورکوي.

څه موده وړاندې د عامه پوهاوي ټول مواد د طرحې او دیزاین وروسته چاپ شوي او د کمیسیون د مرکزي دفتر له خوا ولایتونو ته لیږل شویدي.

## د حساسو او غیر حساسو موادو او د بایومتریک وسیلو برابرول



د کمیسیون د عملیاتي برخې څخه د ترلاسه شویو اطلاعاتو له مخې حساس، غیرحساس او د بایومتریک وسیلې د کمیسیون مرکزي دفتر ته رسیدلي او په پام کې ده چې ولایتونو ته د هغو د لیږد بهیر هم پیل شي.

د رسیدلو اطلاعاتو له مخې له ۳۵ زرو څخه زیات د بایومتریک وسایل او د هغو سره تړلي نور توکي، د رای ورکونکو نوملړ او غیر حساس ټاکنیز توکي د کمیسیون په مرکزي دفتر کې چمتو شوي او د ویش له پاره د چمتوالي وروسته ولایتونو ته لیږدول کیږي.

دا رنګه د عامه پوهاوي په برخه کې باید وویل شي، چې د عامه پوهاوي راډیویي او تلویزیوني پیغامونه د خپریدو په حال کې دي، د اطلاع رسولو تابلو ګانې نصب شوي او نور چاپي او ښوونیز توکي ولایتونو ته استول شوي او مبلغانو په ولایتونو کې د عامه پوهاوي سیمه یز کمپاین پیل کړیدی.

باید وویل شي چې رای پاڼي هم دا مهال هیواد ته رارسیدلي دي.